**عمومي اسامبله**

**امنیت شورا**

خپرېدل: عمومي

۲۰ جون ۲۰۲۳

اصل: انګلیسي

---

**عمومي اسامبله**

**اوو اویایمه ناسته**

د اجنډا ۳۴ ماده

**د افغانستان حالت**

**د امنیت شورا**

**اته اویایم کال**

**د افغانستان وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغېزې**

**د سرمنشي راپور**

**لومړی: پېژندنه**

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پرېکړه لیک او د امنیت شورا ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) او ۲۶۲۷ (۲۰۲۳) پرېکړه لیکونو په تعقیب په کومو کې چې له امنیت شورا غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د ځایي کچې په ګډون په افغانستان کې د وضعیت او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه راپور ورکړي.

۲. د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ د ۲۷ نېټې د پخواني راپور (A/77/772-S/2023/151) له خپرېدو راهیسې دغه راپور د سیاسي، بشري، او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

**دویم: اړوند تحولات**

۳. طالبانو په افغانستان کې د واک ساتنه او تحکیم جاري ساتلی. دغه کار د وسله والې جګړې د نسبي غیابت د رامنځ ته کېدو لامل شوی خو همدارنګه د افغانانو په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو پر بنسټیزو حقونو او آزادیو د دوامدار محدودیت لامل شوی. د راپور ورکولو په موده کې کله چې برحاله د کورنیو چارو وزارت د یوناما مشرتابه ته پر هغو افغان ښځینه کارمندانو چې د ملګرو ملتونو لپاره کار کوي د سختو محدودیتونو په اړه خبر ورکړ، په افغانستان کې فعالیت کوونکي ملګري ملتونه په مستقیم ډول اغېزمن شول. د طالبانو مشر هیبت الله اخندزاده په ملي او ځایي کچو د حکومتولۍ پر پرېکړو خپل زیاتېدونکی نفوذ اعمال کړی. په عراق او شام کې د اسلامي دولت – خراسان ډلې د وسله وال مخالفت او بریدونو په تړاو امنیتي پېښو دوام درلود. یوناما د تېر حکومت د چارواکو او امنیتي پرسونلو د ۲۰۲۱ کال په اګست له اعلان شوې عمومي بخښنې څخه په سرغړونه کې او دغه راز د وسله وال مخالفت له ډلو او په عراق او شام کې د اسلامي دولت – خراسان له ډلې سره په تړاو د تورنو کسانو په ضد د بشري حقونو د تیریو او سرغړونو په تړاو د باوري ادعاوو ترلاسه کول جاري ساتلي. د برحاله چارواکو له خوا د راکم شوي اداري فساد او د کوکنارو د کروندو د زیات شوي له منځه وړلو په اړه د راپورونو په ترڅ کې برحاله چارواکو د عوایدو د پیاوړې راغونډونې او سوداګریزې کارکردګۍ په اړه خبر ورکول جاري ساتلي. څرنګه چې د پراختیا په برخه کې خورا

محدوده پانګونه موجوده ده او په میلیونونو افغانان د نړیوالې بشري مرستو پر بستو متکي دي، وړاندوینې د ودې او بې وزلۍ د له منځه وړلو لپاره محدود احتمالات په ډاګه کوي. په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د اړتیاوو له نا پیشبینې شویو کچو او تر دې دمه د ۲۰۲۳ کال لپاره د بشري مرستو په تمویل کې له شدید کموالي سره، بشري وضعیت لا اوس هم ناوړه ګڼل کېږي.

**الف. سیاسي تحولات**

۴. د اپریل پر ۵ نېټه، برحاله د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي په شفاهي ډول د افغانستان لپاره د سرمنشي ځانګړې استازې او د یوناما رئیسې ته پر داخلي ښځینه کارمندانو چې د ملګرو ملتونو لپاره کار کوي د سختو محدودیتونو د پرېکړې په اړه خبر ورکړ. استثنآت یوازې د روغتیا او د لومړنیو زده کړو د سکتورونو په برخه کې وې. ملګرو ملتونو د دغې پرېکړې په غندنه کې د اپریل پر ۵ او ۱۱ نېټه اعلامیې خپرې کړې چې په ډاګه کوي چې نوموړی سازمان به د ملګرو ملتونو له داخلي کارمندانو، نارینه او ښځینه وو، غوښتنه وکړي چې د مهمو دندو لپاره یوازې له محدودو او تنظیم شویو استثناآتو پرته دفترونو ته حاضر نه شي. د یوناما لپاره دغه وضعیت لا اوس هم دوام لري او تر دوامدارې څارنې لاندې دی. د اپریل پر ۱۲ نېټه، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو په چارو کې د نه لاس وهنې ژمنتیا یې یو ځل بیا تاییدوله په ډاګه کړه چې طالبان تمه لري چې ملګري ملتونه به دغه شدید محدودیتونه رعایت کړي. یوناما له برحاله چارواکو سره په ټولو تعاملاتو کې د دغو شدیدو محدودیتونو د بېرته اخیستلو په لټه کې ده.

۵. د مۍ پر ۱ او ۲ نېټه، سرمنشي د افغانستان په اړه د ځانګړو استازو ناسته ترسره کړه چې د ګډو موخو په اړه نړیوال تعامل غښتلی کړي. فریدون سینیرلي اوغلو، څوک چې په اپریل کې د خپلواکې ارزونې چې د امنیت شورا د ۲۶۷۹ (۲۰۲۳) پرېکړه لیک له خوا ورته دنده سپارل شوې، د ځانګړي همغږي کوونکي په څېر ګمارل شوی، د ناظر په څېر په یاده غونډه کې ګډون وکړ. د ناستې ګډونوالو د تعامل د یوې داسې ستراتیژۍ لپاره چې د افغانستان د ټیکاو لپاره زمینه برابروي او همدارنګه هغو مهمو اندېښنو ته د رسیدګۍ اړتیا په ډاګه کړه کومې چې د نړیوالې ټولنې له خوا شریکې شوې. په دغو اندېښنو کې راتلونکې هغه شاملې دي، د ټولشموله حکومتولۍ نشتون؛ له بشري حقونو سرغړونې، په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو له هغو؛ د تروریستي سازمانونو دوامدار شتون؛ او د نشه يي توکو قاچاق.

۶. که څه هم د دغو اندېښنو په اړه مختلفو هیوادونو مختلف لومړیتوبونه وضع کړي، خو په اړه یې یو عام درک موجود و چې دغه اندېښنې یو له بل سره تړلې دي. دغې ناستې په افغانستان کې د ښځو او نجونو د بشپړ، مساوي، هدفمند او خوندي ګډون لپاره د امنیت شورا د ۲۰۲۳ کال د اپریل د ۲۷ نېټې په ۲۶۸۱ (۲۰۲۳) پرېکړه لیک کې مطرح شوې غوښتنه منعکس کړه. د ځانګړو استازو تر غونډې مخکې، جاپان او متحده عرب آماراتو د جندر د مساوات او ښځو د ځواکمنتیا لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې (UN-Women) په ملاتړ په نیویارک کې د افغان میرمنو د مختلفو ګروپونو او د هیوادونو د استازو ترمنځ سلامشورې تسهیل کړې. افغان میرمنو یو ځل بیا د افغانستان په تړاو د پرېکړې کولو په ټولو غونډ ځایونو کې د هغوي د بشپړ، مساوي او هدفمند ګډون غوښتنه وکړه. په ورته ډول، یوناما د ملګرو ملتونو له نورو همکارو ادارو سره یو ځای، د ځانګړو استازو له غونډې مخکې او وروسته په ټول هیواد کې له افغان میرمنو سره پر روانو سلا مشورو سربېره له هیواد څخه بهر میشتو د افغان میرمنو له مختلفو ګروپونو سره مجازي [آنلاین] ناستې ترسره کړې، څو ډاډ تر لاسه کړي چې د ماموریت له خوا په ټولو ترسره کېدونکو هلو ځلو او چارو کې د افغان میرمنو اړتیاوې او نظرونه په پام کې نېول شوي. د طالبانو مشر هیبت الله اخندزاده په ملي او ځايي کچو د حکومتولۍ پر پرېکړو د خپل نفوذ زیاتول جاري ساتلي. هغه د نویو ګمارنو او د لوړ پوړو برحاله چارواکو د ادلون بدلون په اړه فرمانونه صادر کړي. ټول ګمارل شوي نارینه وو او غالبا له طالبانو سره تړاو درلود. په ملي کچه، په دغو ګمارنو کې د مارچ پر ۲۲ نېټه د برحاله د افغانستان بانک (مرکزي بانک) د رئیس په څېر د برحاله مالیې د پخواني وزیر هدایت الله بدري ټاکنه شاملې ده، په داسې حال کې چې د برحاله مالیې وزیر منصب خالي پاتې و؛ او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا، د انرژۍ او اوبو، حج او اقافو او د سرحدونو او قبایلو چارو په وزارتونو کې د برحاله څلورو مرستیال وزیرانو

ګمارنې شاملې دي. د مۍ پر ۱۶ نېټه، د طالبانو مشر د راپورونو له مخې د محمد حسن اخند د ناروغۍ له امله برحاله د رئیس الوزراء مرستیال عبد الکبیر محمد جان د برحاله رئیس الوزراء د سرپرست په حیث وټاکه. په ځایي کچه ګمارنو کې د نهو برحاله والیانو، پنځو والي مرستیالانو، لږ تر لږه د ۲۰ ولسوالانو او د دوه ولایتي ښاروالانو ګمارنې شاملې دي. په ملي او ځایي کچو شا و خوا ۵۰ رئیسان بدل شوي. د اپریل پر ۴ نېټه، د طالبانو ویاند یادونه وکړه چې د هغه د دفتر یوه برخه کندهار ته لېږدول شوې. د اپریل پر ۱ او د مۍ پر ۴ نېټه، برحاله سترې محکمې د برحاله ۱۰ ولایتي استیناف محکمو، په هلمند، هرات او غزني ولایتونو کې د ښاروالۍ د ابتدائیه محکمو د نویو رئیسانو او د نظامي ابتدائیه محکمو د قاضیانو په ګډون د ۲۲ نویو قضایي بدلونونو خبر ورکړ.

۷. د راپورونو له مخې برحاله چارواکو د ښځینه وو په ګډون چې پر هیواد د طالبانو تر ولکې وروسته له زیاترو هغو یې غوښتنه شوې چې خپلو دندو ته حاضرې نه شي، د ملکي مامورینو د معاشاتو تادیه کول جاري ساتلي. د اپریل پر ۱۱ نېټه، د برحاله مالیې وزارت د خزانې د ریاست رئیس خبر ورکړی چې نوموړي وزارت ۴ بیلیونه افغانۍ (نږدې ۴۵.۷ میلیونه امریکایي ډالر) د حکومت د تقاعد شویو مامورینو د تقاعد د تادیې په پار تخصیص کړي، چې د طالبانو د مشر په تائید پورې مشروط ګڼل کېږي. د اپریل پر ۱۷ نېټه، برحاله د اداري چارو دفتر د سولې او ملي پخلاینې د عالي شورا د پخوانیو کارمندانو لپاره د اوو میاشتو معاشتو د تادیې اعلان وکړ.

۸. د فبروري پر ۲۸ نېټه د برحاله کابینې له خوا د ۱۴۰۲ مالي کال د ملي بودجې تر تصویب وروسته، برحاله د مالیې وزارت د اپریل پر ۹ نېټه اعلان وکړ چې په کندهار کې د طالبانو د مشرتابه له خوا د بودجې په نهایي تایید پورې مشروط، د مصروفولو لپاره لومړی تخصیص تایید شوی.

۹. په ځایي کچه، د فبروري پر ۲۱ نېټه برحاله د کورنیو چارو وزارت د خدمتونو د برابرولو د تقویه کولو له ښکاره شوي نیت سره خبر ورکړ چې د ولسوالیو د برحاله اداري جوړښتونو د جوړولو په ګډون د ۱۲ ولایتونو اداري جوړښتونه د نویو ولسوالیو د تعدیل او اضافه کولو په پار تعدیل شوي. د برحاله چارواکو له معلوماتو سره سم، په دې سره به په ټول هیواد کې د ولسوالیو شمېر له ۳۹۱ څخه ۴۲۰ ته لوړ شي. د طالبانو مشر د اداري ځار د ترسره کولو او ځایي شخړو د حل کولو په موخه د علماؤو د ولایتي شوراګانو جوړول جاري ساتلي. د عمومي خبرتیاوو او یوناما ته د چارواکو له خوا د ورکړل شویو معلوماتو پر بنسټ، تر دې دمه د علماؤو ۲۲ شوراګانې په رسمي ډول تاسیس شوي.

۱۰. د برحاله چارواکو لوړ پوړو استازو ټولنې ته پر سیدنه او اقتصادي پروژو لکه کلیوالي سړکونه، د برېښنا بندونه او کرنیز ملاتړ باندې له تمرکز سره له ولایتونو او ولسوالیو لیدنې ترسره کړي. د طالبانو د سرچینو له معلوماتو سره سم د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د بېرته راګرځولو برحاله کمیسیون په کابل کې د ۱۶۰۰۰ جریبه (۳۲۰۰ هکټاره) ځمکې په ګډون په ټول هیواد کې ۵۰۰۰۰۰ جریبه (۱۰۰۰۰۰ هکټاره) ځمکه بېرته راګرځولې.

۱۱. له افغانستان څخه بهر سیاسي آپوزیسیون چې د تېر جمهوریت له تبعید شویو چارواکو او سیاسي اشخاصو څخه تشکیل دی، د بین الافغاني ډیالوګ/خبرو اترو لپاره د وړاندیزونو وړاندې کول جاري ساتلي په داسې حال کې چې د طالبانو په رسمیت پیژندلو په ضد مدافعه ترسره کوي، د خپلو هڅو لپاره د نړیوال ملاتړ د ترلاسه کولو په لټه کې دي. مخالفو سیاسي څېرو د خپلو وړاندیزو د بیانولو لپاره له هیواد څخه بهر یو شمېر غونډې ترسره کړي. په دغو غونډو کې د افغانستان د راتلونکې فکر غونډځای ناسته چې د اپریل له ۱۰ تر ۱۲ نېټې پورې په دوحه کې ترسره شوه او د اپریل پر ۲۴ او ۲۵ نېټه دویم کنفرانس چې په ویانا کې ترسره شو، شامل دي. له پخوانیو افغان چارواکو او سیاسي شخصیتونو سره د اړیکو کمیسیون له هندوستان څخه د ۲۰ نظامي اکاډمي د فارغینو او له ترکیې، اروپا او د امریکا له متحده ایالاتو څخه د تېر جمهوریت د ۱۳ چارواکو د راستنېدو راپور ورکړی.

۱۲.     برحاله چارواکو د تېر جمهوریت د اداري او حقوقي چوکاټ د بدلون لپاره خپلې هڅې جاري ساتلې. د مارچ پر ۸ نېټه، د طالبانو مشر د یوه فرمان په صادرولو سره لوي څارنوالي منحل کړه او پر ځای یې نوی د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست رامنځ ته کړ. د مارچ پر ۲۱ نېټه، برحاله د اداري چارو دفتر یوناما ته خبر ورکړ چې تخنیکي کارپوهان ګمارل شوي څو د قانون د بیا کتنې په روانه پروسه کې مرسته وکړي، په داسې حال کې چې د اپریل پر ۲۵ نېټه، د طالبانو ویاند یو ځل بیا د دې یادونه وکړه چې د شریعت پر بنسټ د اساسي قانون د لیکلو پروسه جریان لري. د راپور ورکولو په موده کې، د طالبانو مشر د اداري فساد او خپل پالنې پر ضد درې فرمانونه خپاره کړل چې برحاله چارواکې په دولتي قراردادونو کې له ګډون (د مارچ پر ۱۲ نېټه) د هغوي تر مسؤولیت لاندې اداروکې د خپلو زامنو او خپلوانو له ګمارنې څخه منع کوي (د مارچ پر ۱۸ نېټه)، او د دولتي ځمکې ویش، اجاره او پلور تنظیموي (د مارچ پر ۲۰ نېټه). برحاله محکمو د هغو قضیو په اړه بیا قضاوت کول پیل کړي چې د طالبانو تر ولکې مخکې فیصله شوې وې، څرنګه چې برحاله چارواکو د دې ادعا کړې چې دغه پریکړې په فساد ککړې او له شریعت سره په مغایرت کې وې.

۱۳.     د طالبانو مشر پر برحاله امنیتي ارګانونو پراخ مستقیم نفوذ ډاډمن کړی. په دې کې د شپږو ولایتي او اوو ولسوالیو د امنیه قوماندانو، د پنځه قول اردوګانو د قوماندانانو او د استخباراتو د لوي ریاست د یوه ولایتي رئیس بدلون، او کندهار او یو شمېر کندېکونو ته د ځینو ځانګړو ځواکونو لېږد او استعفا شامل دي.

۱۴.     یوناما د ځايي برحاله چارواکو، علماؤو، د مدني ټولنې د سازمانونو، رسنیو، ځوانانو او د ټولنې د نورو غړو ترمنځ د حکومتولۍ اړوند موضوعاتو لکه د ښې حکومتولۍ د اصولو، د خدمتونو وړاندې کول او زده کړو ته د نجونو د لاس رسي په اړه د پوهاوي لوړولو ۲۵ ناستې ترسره کړې. یوناما د ځايي اړتیاوو او د قومونو ترمنځ د کشالو په اړه له ځايي ټولنو سره د برحاله ځايي چارواکو له خوا ترسره شوې ۴۲ ناستې څارلې. د ټولنې استازو په دوامدار ډول د مدني ټولنې د راتنګېدونکې فضا او د مدني ټولنې سازمانونو، رسنیو او ښځینه کارمندانو ته د تهدیدونو په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې. د ملګرو ملتونو پر افغان ښځینه کارمندانو د سختو محدودیتونو تنفیذ افغان شریکبانو، په ځانګړي ډول ښځو ته د ملګرو ملتونو رسیدنه اغېزمنه کړې.

**ب. امنیت**

۱۵.     په ۲۰۲۲ کال کې د ورته مودې په پرتله، د فبروري د ۱ او د مۍ د ۲۰ نېټې ترمنځ د جګړې اړوند امنیتي پېښو په عمومي شمېر کې لږ اندازه کموالی موجود و. ملګرو ملتونو د امنیت اړوند ۱۶۵۰ پېښې مستند کړې، چې د ۲۰۲۲ کال په ورته موده کې د ثبت شویو ۱۶۶۸ پېښو په پرتله ۱ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د لاس رسي وړ ارقام په ډاګه کوي چې وسله والې نښتې له ۱۳۳ څخه ۶۶ پېښو ته په راټیټیدو سره ۵۰.۴ سلنه راکمې شوې؛ ځانمرګي بریدونه له صفر څخه دریو پېښو ته لوړ شوي؛ د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو چاودنې له ۹۲ څخه ۵۹ پېښو ته په راټیټیدو سره ۳۵.۸ سلنه راکمې شوې؛ نیونې له ۴۹۴ څخه ۵۳۶ ته په لوړیدو سره ۸.۷ سلنه زیاتې شوې؛ او وژنې له ۹۹ څخه ۵۹ ته په ټیټیدو سره ۴۰ سلنه راکمې شوې. د جرم کچه لا اوس هم لوړه ده چې شوکې، غلاوې او وژنې تر ټولو زیاتې ثبت شوې پېښې ګڼل کېږي. د ځمکو، څړځایونو او اوبو د ویش پر سر شا و خوا ۲۲ شخړې ثبت شوې. شمال-ختیځې، لویدیځې او ختیځې سیمې د ټولو ثبت شویو پېښو ۵۳ سلنه جوړوي، چې ننګرهار، هرات، او کندز تر ټولو زیات اغیزمن شوي ولایتونه ګڼل کېږي.

۱۶.     د راپور ورکولو په موده کې، په ۲۰۲۲ کال کې د ورته مودې په پرتله د وسله وال آپوزیسیون د بریدونو او له برحاله چارواکو سره د وسله والو نښتو شمېر راټیټ شوی. یوناما په افغانستان کې د وسله وال مقاومت د فعالیت کوونکو دریو اصلي ډلو له خوا ادعا شوي بریدونه ثبت کړي. د ملي مقاومت جبهه، د افغانستان د آزادۍ جبهه او د افغانستان د آزادۍ غورځنګ په اتو ولایتونو کې د بریدونو مسؤولیت پر غاړه اخیستی. د برحاله دفاع وزارت تر کنټرول لاندې برحاله امنیتي ځواکونو د هغو

عملیاتو ترسره کول جاري ساتلي کوم چې مخالف جنګیالي په نښه کوي، د پروان ولایت په سالنګ ولسوالۍ د اپریل د ۱۱ نېټې د عملیاتو په ګډون، په کومو کې چې د راپورونو له مخې اته مخالف جنګیالي وژل شوي.

۱۷. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ډلې له خوا د ادعا شویو یا دغې ډلې ته د منسوب شویو بریدونو شمېر راکم شوی. د فبروري د ۱ او د مۍ د ۲۰ نېټې ترمنځ، د ۲۰۲۲ کال په ورته موده کې په ۱۲ ولایتونو کې د ۶۲ بریدونو په پرتله ملګرو ملتونو د نوموړې ډلې له خوا په ۵ ولایتونو کې ۱۱ بریدونه ثبت کړي. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ډلې له خوا په ادعا شویو پېښو کې د مارچ پر ۸ نېټه یو ځانمرګي برید په کوم کې چې په مزار کې د بلخ برحاله والي محمد داود مزمل ووژل شو؛ په یوه فرهنګي مرکز کې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو چاودنه چې په مزار شریف کې یې د مارچ پر ۹ نېټې د ژورنالستانو یوه غونډه په نښه کړې وه؛ او د مارچ پر ۲۷ نېټه په کابل ښار کې ځانمرګی برید چې برحاله د بهرنیو چارو وزارت ته څېرمه یې یه چک پواینت په نښه کړی و، شامل دي. برحاله امنیتي ځواکونو په کابل، هرات، بلخ، فاریاب، جوزجان، نیمروز، پروان، کندز او تخار ولایتونو کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ډلې سره د مبارزې خپل عملیات جاري ساتلي.

۱۸. د پولو په اوږدو کې پېښې راکمې شوې. د فبروري پر ۲۰ نېټه په تورخم کې، د مارچ پر ۱۳ نېټه د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې د نښتو په ګډون د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیمه کې ټولټال ۱۴ پېښې رامنځ ته شوې. د برحاله امنیتي ځواکونو له خوا د فبروري پر ۲۷ د ایراني سرحدي پولیسو د نیولو او بیا بېرته خوشې کولو؛ د مارچ پر ۵ نېټه په نیمروز ولایت کې د برحاله امنیتي ځواکونو او د ایراني سرحدي پولیسو ترمنځ د راپورونو له مخې د پولې په اوږدو کې د قاچاق پر سره د وسله والې نښتې او د مارچ پر ۱۵ او د مۍ پر ۷ نېټه په نیمروز کې د نښتو په ګډون چېرې چې د ادعاوو له مخې ایراني سرحدي پولیسو پر هغو افغانانو ډزې وکړې چا چې له پولې ایران ته د داخلېدو هڅه کوله، له ایران سره د پولې په اوږدو کې شپږ پېښې واقع شوې. د نشه يي توکو د قاچاق په تړاو د فبروري د ۲۱ او ۲۴، د اپریل د ۲۸ او د مۍ د ۹ نېټې د پېښو په ګډون له تاجکستان سره پر پوله لږ تر لږه د څلورو پېښو خبر ورکړل شوی.

۱۹. د فبروري پر ۲۲ نېټه د دفاع وزیر خواجه محمد اصف او د آی ایس آي د رئیس جنرال ندیم انجم په مشرۍ یوه لوړ پوړي پاکستاني پلاوي له کابل څخه لیدنه وکړه چې د برحاله چارواکو او د تحریک طالبان پاکستان ترمنځ د اړیکو د تورونو او د فبروري له ۱۹ تر ۲۵ نېټې پورې د برحاله چارواکو له خو د تورخم پولې د تړلو په ترڅ کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ د امنیت په اړه خبرې اترې ترسره کړې. د مارچ پر ۱ نېټه، د خوست ولایت به متونو ولسوالۍ کې په یوه هوټل کې چاودنې چې مسؤولیت یې کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی ۱ کس وواژه او لږ تر لږه ۱۰ نور یې ژوبل کړل، چې ویل کېږي دغه هوټل ته به وخت نا وخت د تحریک طالبان پاکستان غړو تګ راتګ کاوه.

۲۰. یوناما له کوچنیو او سپکو وسلو سره د ملو خطرونو ارزونه جاري ساتلې. ماموریت د خطر راکمونې چوکاټ نهایي کړی کوم چې به د یوناما او اړوندو شریکباڼو راتلونکې هڅې راهنمايي کړي څو هغه خطرونه چې د کوچنیو او سپکو وسلو، له ناقانونه سوداګرۍ او له حده زیاد تراکم او انحراف چې په افغانستان او سیمه کې د مهماتو او چاودېدونکو توکو پورې تړاو لري، راکم کړي.

۲۱. د فبروري د ۱ او د مۍ د ۲۰ نېټې ترمنځ، ملګرو ملتونو په ۳۰ ولایتونو کې د وسلو ۱۰۱ نیونې ثبت کړي. د اپریل پر ۲ نېټه، برحاله د کورنیو چارو وزارت ټولو ملکي او نظامي هغو برحاله غړو ته چې وسلې ګرځوي د یوې میاشتې مهلت ورکړ چې خپلې وسلې د برحاله کورنیو چارو وزارت د عامه خدمتونو له ریاست سره ثبت کړي.

۲۲. د فبروري د ۱ او د مۍ د ۲۰ نېټې ترمنځ، ملګرو ملتونو د تهدید د ۲۶ پېښو، د اتو جرمي پېښو، ۱۱ نیونو، د ملګرو ملتونو د کمپاونډونو، دفترونو او ملکیت د اغېزمنوونکو ۱۵ پېښو په ګډون ۶۲ داسې پېښې مستند کړي چې په مستقیم ډول د دغه سازمان کارمندان اغېزمنوي. د دغو پېښو مجموعه د ۲۰۲۲ کال په ورته موده کې د ثبت شویو ۷۹ پېښو په پرتله کموالی

په ډاګه کوي. د فبروري پر ۱۱ نېټه ملګرو ملتونو ته د ډسمبر د ۲۴ نېټې د غیردولتي موسسو لپاره د افغان ښځو د کار کولو د بندیز د غځېدلو په پام کې نیولو سره، برحاله چارواکو د یوناما د جلال آباد دفتر ته د ملګرو ملتونو د ټولو ښځینه کارکوونکو د تګ مخه نیولې (چې د ملګرو ملتونو د امنیتي چارو د یوه قراردادي کارمند په ګډون ټولټال څلور ښځې متاثره کوي). ټولټال پنځه داخلي ښځینه کارمندانې چې په ننګرهار ولایت کې یې د ملګرو ملتونو د دوو ادارو لپاره کار کاوه د فبروري پر ۲۸ او د مارچ پر ۶ نېټه خپلو دفترونو ته له تګ څخه منع شوي، همدارنګه یوه داخلي ښځینه کارمنده په کندهار کې د مۍ پر ۱۷ نېټه خپل دفتر ته له تګ څخه منع شوې.

**ج. سیمه ییزه همکاري**

۲۳.	سیمه ییزو هیوادونو او سازمانونو له برحاله چارواکو سره دوه اړخیز او ګڼ اړخیز تعامل جاري ساتلی. په دغه مباحثو او خبرو اترو کې مختلف موضوعات لکه ټولشموله حکومتولي، بشري حقونه، د ښځو د حقونو او آزادیو په ګډون، له تروریزم سره مبارزه، د پولې امنیت، له نشه یي توکو سره مبارزه او اقتصادي همکاري مطرح شوي.

۲۴.	یو شمېر سیمه ییز غونډې [فارمټونه] ترسره شوي. د مارچ پر ۷ نېټه، د افغانستان په اړه د هندوستان-مرکزي اسیا ګډ کاري ګروپ په افغانستان کې د یوه ټولشموله حکومت، د بشري حقونو او ښځو حقونو، له تروریزم سره د مبارزې او بشري مرستو لپاره خپل ملاتړ اعلان کړ. د مارچ له ۶ تر ۹ نېټې پورې، د اسلامي همکاریو د سازمان د سرمنشي د افغانستان لپاره ځانګړي استازي طارق علي بخیت له کابل او کندهار څخه لیدنه وکړه چې د دغه سازمان د اجرائیه کمېټې د جنوري د ۱۱ نېټې د تعقیب په اړه خبرې اترې ترسره کړې. په نواکشوت کې د مارچ پر ۱۶ او ۱۷ نېټه د اسلامي همکاریو د سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو شورا ناستې په افغانستان کې له اسلامي اصولو سره سم د زده کړو او کار ته د ښځو د حقونو، د بشري مرستو د برابرولو له تروریزم سره د مبارزې کولو ژمنه وکړه. د مۍ پر ۵ نېټه، هندوستان په ګوا کې د شانګهاي د همکارۍ سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو ناستې د شانګهاي د همکارۍ سازمان د افغانستان د ارتباط ګروپ د خپلو چارو پر بېرته پیلولو توافق وکړ، کومې چې پر هیواد د طالبانو تر ولکې وروسته ځنډول شوې وې.

۲۵.	لوړ پوړو برحاله چارواکو په یو شمېر څو اړخیزه ناستو کې ګډون کړی. د اپریل پر ۱۳ نېټه، د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په ازبکستان کې ولیدل چې د ثمرقند اعلامیه یې تصویب کړه چې له برحاله چارواکو څخه په افغانستان د ټولشموله حکومت د جوړولو او د ښځو او لږکیو د حقونو د تطبیق؛ د بشري مرستو لپاره د یوه همغږي شوي میکانیزم؛ او له تروریزم او له نشه یي توکو سره د مبارزې د ګډو تدابیرو غوښتنه کوي. برحاله د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي په دغې ناستې کې ګډون کړی و. د مۍ پر ۶ نېټه، برحاله د بهرنیو چارو وزیر متقي د برحاله سوداګرۍ او صنعت وزیر نور الدین عزیزي په ملتیا په پنځمه څو اړخیزه ناسته کې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر بلاول بهټو زرداري او د چین د بهرنیو چارو وزیر قین ګنګ سره ولیدل چې د یوې ګډې اعلامیې په خپرېدو سره تماتمه شوه کومې چې تر څو اړخیز چوکاټ لاندې د سیاسي تعامل د مخ ته وړلو، له تروریزم سره د مبارزې، همکارۍ، سوداګرۍ، پانګونو او اتصال لپاره د خواوو ارادې منعکس کولې.

۲۶.	دوه اړخیز تعاملات په عمده توګه پر امنیتي، اقتصادي، سوداګریزو او ارتباطي موضوعاتو او همدارنګه د نجونو پر زده کړو متمرکز وو. د فبروري پر ۲۲ نېټه، د دفاع وزیر خواجه محمد اصف په مشرۍ یوه پاکستاني پلاوي د پولې د امنیت د غښتلي کولو په اړه د خبرو اترو لپاره له کابل څخه لیدنه وکړه. د مارچ پر ۲۰ نېټه، د قطر د بهرنیو چارو مرستیال وزیر لولوه الخاطر، برحاله د پوهنې وزیر حبیب الله اغا او د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د وجهي صندوق (یونیسف) استازو په دوحه کې ولیدل چې د ښځو د زده کړو په ګډون په افغانستان کې د زده کړو د راتلونکې په اړه خبرې اترې ترسره کړې. د مارچ پر ۲۲ نېټه، د بهرنۍ پالیسي لپاره د ولسمشر د ځانګړي استازي عبد العزیز کاملوف په مشرۍ یوه ازبک پلاوي په کابل برحاله د رئیس الوزراء له مرستیال عبد الغني برادر، برحاله د دفاع له وزیر یعقوب مجاهد او برحاله د بهرنیو چارو له وزیر سره ولیدل چې د

دوه اړخیزو سیمه ییزو اقتصادي پروژو، د پولې د امنیت او د اوبو زیرمو په مدیریت کې د همکارۍ په اړه خبرې اترې ترسره کړې. د اپریل پر ۱۵ نېټه، د قزاقستان لومړي وزیر مرستیال او د سوداګرۍ وزیر سرېک ژومنګرین له کابل څخه لیدنه وکړه چې د سوداګرۍ د پروژو، پانګونو او د سوداګرۍ د ګډې خونې په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د می پر ۱۲ نېټه، د قطر لومړي وزیر او د بهرنیو چارو وزیر شیخ محمد بن عبد الرحمن بن جاسم الثاني له برحاله رئیس الوزراء محمد حسن اخند سره په کندهار کې خبرې اترې ترسره کړې. دوي په افغانستان کې د اوسني اقتصادي او بشري وضعیت په اړه خبرې وکړې.

۲۷. برحاله چارواکو د بهرنۍ پانګونې او اتصال په اړه خپل تعامل جاري ساتلی. دوي په ترتیب سره د فبروري پر ۲۲ او د اپریل پر ۱۳ نېټه د نورو موضوعاتو ترڅنګ د روسیې، ایراني او پاکستاني شرکتونو په ګډون د پانګونې د یوه کنسرسیوم جوړولو او د لیتیم کان کیندنې او اقتصادي زیربناوو په برخه کې له چینایي شرکت سره د شراکت اعلان وکړ. د مارچ پر ۵ نېټه، د ایران اسلامي جمهوریت په کابل کې خپل دایمي سوداګریز مرکز پرانیست. برحاله چارواکو د مارچ پر ۱۳ نېټه د اندخوي-شبرغان پر اور ګاډي پټلۍ کار پیل کړ، د اپریل پر ۲۹ نېټه یې د کندهار له لارې پاکستان د ترکم پټرولیم لپاره د ترانزیت لار پرانیسته، د می پر ۱ نېټه یې د نوې ریل پټلۍ اعلان وکړ چې مرکزي اسیا به له جنوبي هغې سره د مزار، هرات او کندهار له لارې نښلوي، او د می پر ۹ نېټه یې د اسلامي جمهوري ایران او افغانستان ترمنځ یې د هرات-خواف لومړی اور ګاډي و ازماوه، د ازبکستان، افغانستان او پاکستان چارواکو په تاشکند کې د ترانزیت-افغان ریل پټلۍ لپاره د همغږۍ دفتر پرانیست.

۲۸. د راپور ورکولو په موده کې، برحاله ډیپلوماتیکو کارمندانو د فبروري پر ۲۷ نېټه په تهران کې د افغان سفارت او د فبروري پر ۲۸ نېټه د ترکیې په استانبول کې او د مارچ پر ۱۴نېټه په دوبۍ کې په افغان قونسلګریو کې منصبونه ترلاسه کړل. د مارچ پر ۲۵ نېټه د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد خبر ورکړ چې په ترکیا او متحده عرب اماراتو کې پر قونسلګریو سربېره د طالبانو له خوا ګمارل شوي اشخاص د چین، ایران، پاکستان، د روسیې فدراتیف، ترکمنستان او قطر په ګډون په یو شمېر سفارتونو کې پر دندو بوخت دي.

۲۹. په کابل کې د میشتو سیمه ییزو سفیرانو د میاشتنیو غونډو د ترسره کولو له لارې چې پر څښو او نجونو د بندیزونو د لرې کولو، له تروریزم سره د مبارزې او بشري حقونو په اړه له برحاله چارواکو سره تعامل همغږی کړي، یوناما سیمه ییزې همکارۍ ته وده ورکول جاري ساتلي. د مارچ له ۸ تر ۱۰ پورې، په یوناما کې د افغانستان لپاره د سرمنشي د ځانګړي استازي سیاسي مرستیال په اسلام اباد کې له پاکستاني چارواکو او د پاکستاني کارپوهانو د ټولنې له استازو سره په افغانستان کې د اوسني وضعیت په اړه سلا مشورې ترسره کړې. د اپریل پر ۱۹ نېټه، یوناما د مرکزي اسیا لپاره د وقایوي ډیپلوماسۍ لپاره د ملګرو ملتونو د سیمه ییز دفتر له خوا په الماتي کې په یوه تنظیم شوي نړیوال کنفرانس کې ګډون وکړ څو د اوبو د ډیپلوماسۍ او د مرکزي اسیا او افغانستان ترمنځ د همکارۍ ننګونې او فرصتونه و ارزوي.

**دریم: بشري حقونه**

۳۰. د فبروری د میاشتې له ۴ نېټې څخه د می د میاشتې تر ۲۰ نېټې پورې، یوناما د ۲۹۲ د ملکي وګړو تلفاتو مستند کړي (۸۸ کسان وژل شوي او ۲۰۴ ټپیان شوي). په لاس جوړ شوي چاودیدونکي توکي او د جګړو څخه پاتې شوی ناچاوده توکي د ملکي تلفاتو اصلي لاملونه وو.

۳۱. د جنوري د میاشتې له ۱ څخه بیا د مارچ د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، د څارنې په اړوند د راپور ورکولو د هیواد کاري ډله د ۱۶۵ ماشومانو په وړاندې د ۳۱۵ جدي سرغړونې تایید کړې. وژنې او معیوبول د ماشومانو په وړاندې تر ټولو عام سرغړونې شمېرل کیږي، چې د ټولو تایید شویو سرغړونو، ۸۵ سلنه جوړوي.

۳۲. یوناما د پخوانیو حکومتي چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو په وړاندې د غیرقانوني وژنو، خپل سري نیولو او توقیفولو، شکنجې او ناوړه چلند مستند کولو کار ته دوام ورکړی. یوناما په دې موده کې لږ تر لږه څلور د محاکمې پرته وژنې، لږ تر لږه ۶۳ خپلسري نیونې او توقیفول او لږ تر لږه د شکنجې او بد چلند ۱۲ قضیې مستند کړي دي. د بشري حقونو سرغړونې د هغو اشخاصو په وړاندې چې د وسله والو مقاومت ډلو سره د تړاو په تور د اوسنۍ چارواکو لخوا ترسره شوي، په ځانګړې توګه د ملي مقاومت جبهه، او د داعش سره په تړاو پدې موده کې مستند شوي، چې لږترلږه ۶ د محاکمې پرته وژنې وې، او لږ تر لږه ۱۲۷ خپل سري نیول او توقیفول، او لږ تر لږه د شکنجې او ناوړه چلند لږ تر لږه ۸ قضیې مستند کړي دي.

۳۳. د می د میاشتې په ۵ نېټه یوناما په افغانستان کې د فزیکی مجازاتو او د مرګ د سزا په اړه یو راپور خپور کړ.[1] راپور موندلی چې د ۲۰۲۲ کال د نومبر د میاشتې د ۱۳ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۳ کال د اپریل د میاشتې تر ۳۰ پورې، په عام منظر کې یو اعدام ترسره شوي او لږ تر لږه ۴۳ تنه په عام محضر کې وهل شوي دي. ویل شوي چې د اوسنۍ چارواکو مشرتابه ټولو محکمو ته لارښوونه کړې چې د قصاص او حدود سزاګانو په اړه پریکړې باید د شریعت له اصولو سره سم په دقت سره وشي او د پلي کیدو دمخه د "مشرتابه تصویب" لپاره د مشرتابه دفتر ته واستول شي. همدارنګه هغه وویل، چې په ټول هېواد کې د اوسنۍ چارواکو اسلامي محکمو له جوړېدو راهیسې، عدلیې محکمو نږدې ۱۷۵ د قصاص سزا، ۷۹ د دیت، ۳۷ د سنګسار او ۴ پر محکوم شخص باندې د دېوال د ړنګولو سزاګانې اورولې دي. ۱۰۳ د حدود سزاګانې او ۱۵۶۲ د تعزیراتو سزاګانې دي.

۴۳. د مدني ټولنې فعالان، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د حقونو په اړه د خبرو کولو له امله، د خپل سر نیولو سره مخ شوي دي. د فبرورۍ د میاشتې په ۱۱ نېټه په کابل کې د ښځو د حقونو فعاله نرګس سادات د اوسنۍ چارواکو له خوا د هغې د تبلیغی فعالیت په تور ونیول شوه. هغې د اپریل د میاشتې په ۱۰ نېټه بېرته خوشې شوه. د مارچ د میاشتې د ۶ او ۸ نېټو تر منځ موده کې، په کابل او غور ولایتونو کې، د ښځو په مشرۍ د ښځو پر وړاندې د محدودیتونو پر ضد لاریونونه د اوسنۍ چارواکو له خوا خواره واره شول. د مارچ د میاشتې په ۲۶ نېټه په کابل کې ۲۵ تنو ښځو یوه مظاهره وکړه چې د هغه په ترځ کې یې د تعلیم او کار په برخه کې د خپلو حقونو غوښتنه کوله. لاریون د اوسنۍ چارواکو د امنیتي ځواکونو له خوا شنډ شو او په پایله کې یې څلور ښځې ونیولې شوی چې بله ورځ بېرته خوشې شول. د مارچ د میاشتې په ۲۷ نېټه په کابل کې د پن پډ د مدني ټولنې مشر مطیع الله ویسا چې د نجونو د ښوونځیو د بیا پرانستلو لپاره یې کمپاین کاوه، د اوسنۍ چارواکو د استخباراتو د عمومي ریاست د منسوبینو له خوا ونیول شو. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد له رسنیو سره په مرکه کې ویلي، چې ښاغلی ویسا "د هغه په اړه د شکمنو معلوماتو" او "غونډو تنظیمولو او اړیکو جوړولو، چې د اندېښنې وړ وو" په تړاو د پلټنو لپاره نیول شوی دی. د دغه راپور د لیکلو په وخت کې، هغه په توقیف کې پاتې دی.

۳۵. اوسنۍ چارواکو د رسنیو د فعالینو په کارونو کې لاسوهنې ته دوام ورکړی. د فبرورۍ په میاشت کې مخابراتي شبکو ته امر شوی و چې د امریکا غږ او ازادي راډیو فارسي او پښتو وېبپاڼې بندې کړي. د فبرورۍ د میاشتې په ۱۴نېټه، په کابل کې، امنیتي ځواکونو د نامعلومو دلایلو له مخې په یوه ټلویزیون برید وکړ. د اوسنۍ چارواکو د اطلاعاتو او کلتور وزارت په حقیقت کې د هغو کسانو لپاره لارښوونې معرفي کړې چې د یوټیوب چینلونه چلوي، د جواز د ترلاسه کولو اړتیا او په هرو دریو کلونو کې د سوداګرۍ مالیه ورکولو په ګډون.

۳۶. د اوسنۍ چارواکو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت او د هغه ولایتي ریاستونه د موجوده محدودکوونکې اقداماتو پلي کولو ته دوام ورکړي، د ساري په ډول د سلماني دوکانونو په اړوند. د اوسنۍ چارواکو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت فعالیتونو کې، د فبروري د میاشتۍ په ۱۴ نېټه او د مارچ د  میاشتې په ۲۱ نېټه، د ولانټاین او د نوي کال لومړي ورځ د

[1] د یوناما بشري حقونه، "په افغانستان کې فزیکی سزاګاني او د مرګ مجازات"، ۵ مې کال ۲۰۲۳. پدغه جالپاڼه کې د لاسرسي وړ دی:
https://unama.unmissions.org/corporal-punishment-and-death-penalty-afghanistan.

لمانځلو منع کول هم شامل وو. د روژې د مبارکې میاشتې لپاره ځانګړي تدابیر پلي شوي وو، په شمول د لمانځه په وختونو کې د دوکانونو بندول (په شمالي بلخ او کندز والیتونو کې)، او باغونو (لویدیځ هرات ولایت) او رستورانونو ته د ښځو د ننوتلو منع کول هم شامل وو. اوسنې چارواکو د اپریل د میاشتې ۲۱ نېټه د کوچني اختر د لومړي ورځ په توګه اعلان کړ، چې د شیعه تقویم له مخې د روژې د میاشتې وروستۍ ورځ وه. د اپریل د میاشتې په ۲۱ نېټه، په دایکندي کې، د اوسنې چارواکو ریاست منسوبینو او پولیسو شیعه پیروان دې ته اړ کړل چې د تلاشي په پوستو کې روژه ماتۍ وکړي.

۳۷. د ښځو او نجونو د بشري حقونو او آزادیو وضعیت نور هم خراب شوی دی. د مارچ د میاشتې په ۲۱ ، په داسې حال کې چې په سرد سیر ولایتونو کې د نوي تعلیمي کال لپاره لومړني ورځ ده، ابتدایي ښوونځي پرانستل شول، په ټول افغانستان کې د نجونو منځني ښوونځي تړلي پاتې وي. په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي په وینا، وروستي فرمانونه چې ښځې او نجونې یې له ابتدایي دوري څخه پورته زده کړې، پارکونو، جیمونو او عامه حمامونو ته د لاسرسي او د نادولتي موسسو او ملګرو ملتونو لپاره د کار کولو څخه منع کړي دي، چې د ښځو د موجوده بشري حقونو ښکاره سرغړونې نور هم زیاد کړي، چې له دې مخکې په نړۍ کې داسې کلک دریځ ندی لیدل شوي. د ښځو او نجونو له حقونو څخه سرغړونې، په ټولیزه توګه، دوی ته د تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستنې ګواښ زیاتوي او په اقتصاد او حیاتي بشري مرستو په وړاندې کولو کې د منفي اغیزو سربیره، جدي فزیکي او رواني روغتیا اغیزه کوي. په هغه لړ کې چې د اوسنې چارواکو د پوهنې وزارت لخوا د مارچ د میاشتې په ۲۱ نېټه په ټولنیزو رسنیو کې خپور شوی، ویل شوي چې "د اوسمهال لپاره [یوازې] د انجونو ښوونځي ... له لومړي څخه تر شپږم ټولګي پورې" به پرانستل شي. په ورته ډول، پداسې حال کې چې د پوهنتونونو لپاره نوی تعلیمي کال د مارچ د میاشتې د ۶ نېټې څخه پیل شو، میرمنو ته اجازه نه وه، چې د اوسنې چارواکو لخوا د ۲۰۲۲ کال د دسمبر د میاشتې په ۲۰ نېټه چې میرمنو لپاره د پوهنتون زده کړې ځنډول شو، وروسته خپلې زده کړې بیا پیل کړي.

۳۸. د ښځو لخوا پرمخ وړل شوي سازمانونه د اوسنې چارواکو لخوا په نښه شوي دي. د بېلګې په توګه، د اپریل د میاشتې په ۷ نېټه په هرات ولایت کې، د اقتصاد وزارت د ښځو غړ موسسې ته، چې د سیمه ییزو ښځو په مشرۍ یوه غیر دولتي موسسه ده، د طالبانو د مشر له خوا د دې سازمان د فعالیتونو د بندولو د پریکړې په اړه خبر ورکړ. د خپل واک څخه بهر د فعالیتونو ترسره کول، یو تور و چې سازمان یې رد کړی. د کورنیو چارو وزارت خپلو منسوبینو ته لارښوونه کړې چې په ټولو ۱۴ ولایتونو کې د غیردولتي مؤسسې شتمنۍ ضبط کړي.

۳۹. د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي پیښې راپور شوي دي، د وژنې او ناموسي وژنې څخه نیولې بیا تر اجباري ودونو او وهلو پورې، چې د ټپي کیدو، معلولیت او ځان وژنې د پیښو د زیاتوالي لامل شوي دي. د دې په ځواب کې، د سپات لایټ نوښت په هرات، کندهار او پکتیا ولایتونو کې د رواني ټولنیزې مشورتي ګرځنده ټیمونه ګمارلي، د جندر پر بنسټ د تاوتریخوالي د ځواب ویلو په اړه یې د مدني ټولنې د لومړۍ لیکې څه باندې ۷۰۰ کارکوونکي روزلي او د ۵۸۰۰۰ څخه ډیر خلک یې د ۲۰۰۰۰ ځوانانو په ګډون د ښځو او نجونې د حقونو ، د ماشومانو د واده کولو ناوړه پایلې او د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د مخنیوی په خاطر، حساس کړي دي. اوسنې چارواکو د مدني او جنایي مسلو د حل لپاره د رسمي او غیر رسمي عدالت میکانیزمونو ترکیب کارولو ته دوام ورکړي، تر څو د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي راپور شوي قضیو په ګډون، مدني او جنایي قضیو ته رسیدګي وکړي. دا میکانیزمونه یوموټي ندي او عدالت ته د ښځو د لاسرسي په اړه اندیښنو ته رسیدګي نکوي.

۴۰. د اپریل په میاشت کې، یوناما، د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر او د مهاجرت نړیوال سازمان د افغان میرمنو سره د دوی د اوسني وضعیت، د افغان میرمنو د کار کولو لپاره د وروستیو سختیو، د ملګرو ملتونو سره د کار بندیز په شمول، محدودیتونو په ګډون، په اړه سلا مشورې وکړې. په ټولیز ډول، په ۲۰ والیتونو کې ۳۵۰ میرمنو سره چې د بیلابیلو شالیدونو څخه دي، سلا مشورې شوې دي. نږدې ټولو افغان میرمنو (۹۸ سلنه) ویلي چې د زده کړې او کار کولو محدودیتونو په ښځو او نجونو باندې منفي اغیزه کړې. مشورې په ډاګه کړه چې د غیر دولتي موسسو او ملګرو ملتونو لپاره په ترتیب سره د ښځو په کار کولو بندیز

او سخت محدودیتونه په کورنیو او ټولنو کې منفي اغیزه کړي. څه د پاسه ۸۰ سلنه میرمنو په تیرو درېو میاشتو کې د عاید د تولیدونکو فعالیتونو کې د کمښت یادونه کړې. د ښځو بیکارۍ په کور کې د دوی وضعیت نور هم کړکیچن کړی دی، د مقابلې د منفي ستراتیژیو کارول (لکه د ماشومانو کار، د ماشومانو ودونه او بې ځایه کیدل)، په پریکړه کولو کې د دوی د نفوذ کمښت، د کورنۍ د نارینه غړو سره د اړیکو خرابیدل او د کورنۍ د تاوتریخوالی د احتمال زیاتیدل دي. تر ټولو پورته، افغان میرمنې د ژور رواني روغتیا کړکیچ او ټولنیز شړیدل انځور په لاس ورکوي. د دوی غوښتنه له نړیوالې ټولنې څخه دا وه چې دغه ټولنه دوي د خپل برخلیک په ټاکلو یوازې پرینږدي. بلکې د ښځو حقونه دې په افغانستان کې د ښکیلتیا په اړه د ټولو تصمیم نیولو لپاره کلیدي نښه وګرځوي.

۴۱. د اپریل د میاشتې تر ۵ نېټې پورې، د ملګرو ملتونو لپاره د افغان ښځو په کار کولو باندې د طالبانو له سختو محدودیتونو وروسته، یوناما خپلې تخنیکي مشورې او د پوهاوي غونډې چې د زندانونو د ادارې سره او ولایتي زندانونو کې او په یو شمېر زندانونو کې د بندیانو سره د دوی ښکیلتیا ته چمتو شوې وې، په کابل کې د پلچرخي زندان په ګډون څو زندانونه چې نارینه او ښځینه کارکوونکو ته اړتیا لري په ګډون، تعلیق کړي دي.

۴۲. د بندیانو د کمولو لپاره د پرله پسې هڅو سره سره، د مارچ له نیمايي څخه، د اټکل له مخې د ۲۰۰۰ بندیانو څخه نږدې 800 د ایران له اسلامي جمهوریت څخه د راستنیدو له امله د افغانستان په زندانونو کې داخل شوي چې د زندان سیستم نور هم کړکیچن کوي. مالي محدودیتونه او د تمویل کوونکو تمویل دوام د نړیوالو معیارونو سره د پوره کولو لپاره، د کافي خواړو او حفظ الصحې تجهیزاتو سیستماتیک چمتو کول، حرفوي زده کړې او روزنه، او روغتیا پاملرنې په ګډون، د زندانونو د ادارې د اصلي دفتر په ورتیا باندې د پام وړ اغیزه درلوده.

**څلورم: اقتصادي پراختیا، د ډونرانو همغږي او د مرستو اغیزمنتوب**

۴۳. راپور ورکړ شوي عواید او د سوداګرۍ فعالیت د راپور ورکولو د مودې په بهېر کې نسبتاً پیاوړی پاتې شوی دی. موجوده ډیټا په ډاګه کوي چې د 1401 مالي کال په ترڅ کې د دولت عواید (چې د ۲۰۲۳ کال د مارچ په میاشت کې پای ته رسیدلی دی) کابو ۲،۲ میلیارډ ډالرو ته رسیدلي دی، چې کورنۍ ناخالص تولید د مالیې تناسب ۱۳،۸ سلنه جوړه وي. د عوایدو راټولول په حقیقت کې پر پولو باندې راټول شوي مالیاتو باندې زیات متکي دی (چې د ټولټال عوایدو کابو ۵۵ سلنه تکشیلوي). غیر مالیاتي سرچینې د کورنیو عوایدو ۵۱ سلنه جوړوي چې یوه برخه یې د ډبرو سکرو د تولید او صادرول څخه تر لاسه شوي چې په عمده توګه پاکستان ته صادر شوي دي. د اپریل د میاشتې په 17 نېټه اوسنې چارواکو اعلان وکړ د کوچنې سوداګرۍ لپاره د مالیې کمولو کچه له ۱،۵ سلنې څخه و ۰،۵ سلنې ته ټیټ کړی دی. همدارنګه دوي د می د میاشتې په 3 نېټه اعلان وکړ چې دوي د مالیاتو د قوانینو ملي سروې پیل کړي او وویلې چې ۲۷ نور اقدامات، د ځانګړو صنعتونو او سوداګریو کرهنې او پوهنې سکتورنو لپاره د ځینو اضافي مالیاتو کمښت یا معافیت یې د می د میاشتې په ۱۵ نېټه کې اعلان کړ.

۴۴. د ګمرکونو غیر رسمي ډیټا ښیي چې صادرات په 2022 کال کې ۱،۹ ملیارد ډالرو ته رسیدلي دی چې په 2019-2021 کلونو کې ۰،۸ ملیارد ډالره او د 2023 کال په لومړۍ دریو میاشتې کې ۰،۵ ملیارد ډالرو ته رسیدلې چې د 2022 د لومړۍ ربع په پرتله 7 سلنه زیاتوالې ښیي. همدارنګه دغه ډیټا ښیي چې واردات 1.8 ملیارد ډالرو ته رسیدلي، چې 32 سلنه زیاتوالی ښیي. د صادراتو زیاتوالی اصلی لامل د ډبرو سکرو له امله دی (26 سلنه، او 23 سلنه په عمومي سهم کې) او ټوکر (28 سلنه، او ۱۵ سلنه په عمومي سهم کې). د پاکستان او هندوستان هیوادونه د افغانستان تر ټولو لوی صادراتي بازارونه پاتې شوي دي (د ۶۰ سلنې او 20 سلنې په ترتیب سره، د ټول صادراتو په برخه کې)، پداسې حال کې چې د ایران اسلامي جمهوریت تر ټولو ستر واردوونکې

اصلي هیواد پاتې شوی دی (22 سلنه)، ورپسې پاکستان (18 سلنه)، چین (۱۵ سلنه) او د متحده عربو امارات (۱۳ سلنه). د سوداګرۍ کسر د 2023 کال په لومړۍ ربع کې ۱،۳ ملیارد ډالرو ته وغزیده، چې د یو او بل کال په پرتله ۴۵ سلنه وده ښیي.

۴۵. د 2023 کال د فبرورۍ له ۴ څخه د اپریل تر 18 نېټې پورې، د افغاني ارزښت د متحده ایالاتو د ډالرو په مقابل کې ۵،۴ سلنه زیات شوي دی. د انفلاسیون فشارونه د پام وړ په ډول کم شوي دي، چې د 2022 کال د جولای د میاشتې د ۱۸،۳ سلنې څخه د 2023 کال د فبروري په میاشت کې ۳،۵ سلنې ته رسیدلي دی. د اپریل د میاشتې په ۳ نېټه د افغانستان بانک اعلان وکړ چې د افرادو او کمپنیګانو لپاره د پیسو ویستلو محدودیتونه نوره هم نرم کړي دي.

۴۶. د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) لخوا خپره شوې راپور د *افغانستان ټولنیز-اقتصادي لید 2023* تر عنوان لاندې د دغه موضوع په اړوند دویم راپور د 2023 کال په اپریل کې خپور شوی، د افغانستان د اقتصاد دوامداره ماتیدونکې حالت او د بهرنیو مرستو اهمیت انځور په لاس ورکوي. د هر نفر پر سر لګښتونه کابو د ۸۵ سلنه وګړو د 2020 کال د فقر د کرښې تر لاندې دي، (د دغه راپور 18 مخ وګورئ). راپور د ښځو او نجونو لپاره د کار او تعلیمي محدودیتونو په اقتصادي امکاناتو د منفي اغیزو یادونه کوي.

۴۷. د 2023 د مارچ په ۸ نېټه کې د کار نړیوال سازمان په یوه چټکه ارزونه کې، دا په ګوته شوي دی چې د کار او نفوس تناسب نږدې 3 سلنه، د 2021 د اګست د میاشتې څخه دمخه کچې څخه، ټیټه شوي ده. داسې اټکل شوی دی د ۲۰۲۲ کال په څلورمه ربع کې دندې د ۲۰۲۱ کال د دوهمې ربع په پرتله کې ۴۵۰۰۰۰ دندې کمې شوي دي، چې د ځوانانو او د ښځو دندې دواړه 25 سلنه ټیټ اټکل شوي دی، چې د هغه په مقابل کې د نارینه و دندې 7 سلنه کم شوي دی. په کور کې دننه شخصی کار د ښځو لپاره، چې د کار په مارکیټ کې برخه اخیستل، د دندې په یوه عمومي بڼه بدله شوی ده. د نجونو پر ثانوي زده کړو محدودیتونه او همدارنګه پر پوهنتونونو باندې محدودیتونه چې په 2022 کال کې نافذ شوی دی د ځوانانو د کارموندنو پر تناسب باندې به نوره هم غیر متناسب اغیزه وکړي.

۴۸. خصوصي سکټور د سیاسي او حقوقي وضعیت د ناڅرګندتیا له امله، نړیوالو بانکي سیستمونو ته د پیسو د لیږد، ایستلو محدودیتونه، د ویزې او بهرنیو بازارونو ته لاسرسي په اړه خنډونه او د بې ثباته بریښنا رسولو سیستم په ګډون، په دوامداره توګه د ننګونو سره مخ دي. د مالي سکټور ننګونې د دې لامل شوي دي چې د افغانستان اقتصاد په خورا ډېره پېمانه پر غیر رسمي تادیه کولو چینلونو باندې اتکا وکړي.

۴۹. اوسنې چارواکې خپل اقتصادي ځان بسایني پالیسی ته ژمن پاتې دي، چې پدې لړ کې داخلي تولید ته د کورني او صادراتي مارکیټونو لپاره وده ورکوی او سوداګرۍ، کرنې، کانونو، صنعت او تولیدي زیربناوو ته لومړیتوب ورکوي. اوسنې چارواکو د قوش تیپې د اوبولګولو ۲۸۵ کیلو متر کانال کار ته دوام ورکوي، چې لومړی پړاو یې (108 کیلومتره) دی، اوسمهال د 70 سلنې څخه ډیر بشپړ شوی دی. اوسې چارواکې راپور ورکړی چې په 2022 کال کې د 80 کوچني کانونو او دوه لوی کانونو پروژې تړونونه یې په ۲۰۲۲ کال کې او د ډبرو د سکرو او یا او ګازو څخه د بریښنا تولید پروژې یې نهایي کړي دي. اوسنې چارواکې د فبروري د میاشتې په ۲۱ نېټه اعلان وکړ چې دوي ۱۱ پروژې یې په بودیجه کې شامل کړي دي، چې ځینې یې کابو بشپړیدو ته نږدې وو کله چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې وځنډول شول.

۵۰. د مارچ په میاشت کې، د ملګرو ملتونو د هیواد په کچه کاري ډله د 2023-2025 کلونو لپاره د افغانستان لپاره ستراتیژیک کاري چوکاټ باندې د بیاکتنې او نهايي کولو کار پیل کړ، کوم چې د ۲۰۲۲ کال د دسمبر په میاشت کې د طالبانو له خوا د افغان ښځو په غیر دولتي موسسو کې د کار کولو بندیز وروسته درول شوي و. ستراتیژیک کاري چوکات اوږد مهاله پلان جوړونې لېرلید به چمتو کړي، په داسې حال کې چې د مخ پر ودې اړتیاوو او محدودیتونو او د ترټولو زیانمندیدونکي او منزوي شویو کسانو د لومړیتوب ورکولو لپاره ځان عیاروي.

۵۱. ملګري ملتونه او کليدي ډونران د همغږي کولو او مرستو په اړه، د افغانستان د همغږۍ ډلې او اړوند ستراتيژيکو موضوعي کاري ډلې له لارې په مياشت کې دوه ځله ناستو ته دوام ورکوي. د افغانستان د همغږۍ ډله، په افغانستان کې د نړيوال همکاري ملاتړ لپاره (چې د ۲۰۲۲ کال د دسمبر په مياشت کې ودرول شو) په خپل ګډ کاري چوکاټ باندي بيا کتنه کوي چې د انساني لومړنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره يوه ګډه تګلاره به جوړه کړي چې په افغانستان کې د 2023-2025 کلونو په اوږدو کې زيانمنيدونکو او د ګواښ سره مخامخ ډلو ته ملاتړ چمتو کړي، او د وخت په تيريدو سره د بشري مرستو د قضيو بار کم کړي. ستراتيژيک کاري چوکاټ او د افغانستان د همغږۍ ډلې ګډ کاري چوکاټ له نږدې سره به همغږي او توافق ولري.

۵۲. د نغدو پيسو د استولو اسانتيا چې د ملګرو ملتونو لخوا د بشرپالني عملياتو د ملاتړ لپاره تاسيس شوې دی، د ۲۰۲۱ کال د دسمبر د لومړي نېټې څخه بيا د ۲۰۲۳ کال د مې د مياشتې تر ۱۵ نېټې پورې ۲،۵۹ مليارد امريکايي ډالر ليږدولي دي. په دغه موده کې، د ملګرو ملتونو 19 ادارې، وجهو او يا پروګرامونه، نړيوال بانک، د اسيا پراختيايي بانک او ۴۸ نړيوال تاييد شوي غيردولتي سازمانونه دغه اسانتيا ته لاسرسی درلودل. د بانک څخه د پيسو د ايستلو د محدوديتونو د لومړني اسانتيا راهيسې، د 2022 کال د جون په مياشت کې، ګډونوال سازمانونه کولی شي غوره کړي چې خپلې پيسي د افغانستان د هر بانک څخه چې وغواړي ترلاسه کړي. ليږدول شوي نغدي پيسي د افغانيو د اسعارو په ثبات کې کليدي ونډه لوبولي دی او اقتصادي محرک يې برابر کړی دی.

۵۳. د افغانستان لپاره ځانګړي وجهي صندوق تر ټولو زيان منيدونکو ټولنو ته د لومړنيو بشري اړتياوي په اړه د يوموټي مرستو چمتو کولو کار ته دوام ورکوي. ځانګړي وجهي صندوق د بشرپالني فعالينو سره کار کړی ترڅو د غبرګون په اړه د حساب ورکونې د چمتو کولو لپاره، د ښځو ګډون په شمول، د څارنې ميکانيزم رامنځته کړي. د مارچ د مياشتې په ۱۳ نېټه د رهبرۍ کميټې درې مياشتنۍ غونډه، د افغانستان د همغږۍ ډلې د درې مياشتنۍ غونډي مخکې په دوبۍ کې جوړه شوه او پر دې هوکړه وشوه، چې په دې برخه کې د سوېل ختيځ سيمه ييز ملاتړ د څلورم ګډ سيمه ييز پروګرام په توګه به کار وکړي. په ۲۰۲۲ کال کې کابو ۳،۷۸ مليونه وګړي، چې ۴۱،۴ سلنه يې ښځې وې، د ځانګړي وجهې صندوق څخه ګټمن شوي دي.

۵۴. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د درغلۍ او د وجهو د مسېر د بدلولو د ګواښ د کمولو په اړوند پرمختګ کړی دی. د مې د مياشتې په ۱۷ نېټه د همکارانو د آنلاين سيستم پياوړي کولو لپاره او د قراردادیانو د معلوماتو شريکول، د مې د مياشتې په 17 نېټه، موسسو هوکړه وکړه چې د بالقوه حتمالي پلي کوونکو شريکانو د ارزولو لپاره په يوه ګډ کاري کړنلاره باندي کار وکړي. په هغه ګډ ورکشاپ کې چې د مارچ د مياشتې په 17 او 18 د نړيوال بانک او د افغانستان لپاره د ځانګړي وجهي صندوق لخوا په لاره اچول شوې وه، ملګري ملتونه د ډونرانو سره د ګواښ د ګډ ارزونې په اړه د ښکيلتيا نوښت وکړ.

۵۵. اوسنۍ چارواکې د اقليم زيانونو او د چاپيريال اندېښنو ته د رسيدګۍ لپاره خپل نيت ښودلې. د فبروري د مياشتې په وروستيو او د مارچ د مياشتې په لومړيو کې، دوی په ټول هيواد کې د نيالګيو کينولو کمپاين پرانيستل او اعلان وکړ چې په ټول افغانستان کې د ۴۰ ميليونو نيالګيو کينولو پلان لري. د اوسنۍ چارواکو د چاپيريال ساتنې ملي اداره په منظمه توګه د چاپيريال د پوهاوی لوړولو ناستې، په ځانګړې توګه په ښوونځيو کې، وړاندې کوي. اوسنۍ چارواکي په منظمه توګه خپله اندېښنه پدي اړوند څرګندوي، او هغه ته د رسيدګۍ او همکاري لپاره، د اقليم د صدمو، د شديد وچکالۍ، سيلابونه او د افغانستان په شمالي پولو کې د امو سيند د غاړو تخريب په ګډون، غوښتنې کوي.

**پېنځم: د بشر پالنې مرستې**

۵۶. افغانستان په ټولو ۳۴ ولايتونو کې د بشرپالنې، اقليم او بې ساري اقتصادي ناورينونو کچې سره مخ دی. د افغان ښځينه کارکوونکو له بنديز وروسته په نادولتي موسسو کې د دسمبر په 24، د جندر لخوا چټک سروې او د بشرپالنې لاسرسي کاري ډلې موندلي چې د 129 ځواب ورکوونکې سازمانونو څخه، په سلو کې 67 راپور ورکړی چې ښځينه کارکونکې دفتر ته نه راځي. کابو

77 سلنه د ښځو په مشرۍ موسسو یا په بشپړه یا جزوي توګه خپل فعالیتونه بند کړي دي او په سلو کې ۵۴ سلنه د ۲۰۲۳ کال د مارچ په میاشت کې د فعالیتونو د دوام لپاره کافي بودیجه نه درلوده. د بندیز اغیزې ځانګړي سکټور په منظمه توګه د هیواد په کچه د بشرپالنې د اداري د ډلې لخوا څارل کیږي. پداسې حال کې چې روغتیا، تغذیه او روزنې کلسترونو غبرګون د 2023 په لومړۍ ربع کې، د 2022 کال د ورته مودې په پرتله، پراخ وو ، په نورو کلسترونو کې غبرګون یا لږ وو او یا د پام وړ کمښت درلود. په دغه اړوند دیوان سالاري او په تمویل کې ځنډ مرسته کوونکي عوامل ګڼل کیږي.

۵۷. اړمنو ښځو ته لاسرسی په زیاتیدونکي توګه ننګونکي شوي دي، په ځانګړې توګه د بشرپالنې د ارزونې او څارنې په برخه کې. پداسې حال کې چې د ځینو ارزونې او څارنې په برخو کې د ښځینه و د ښکیلتیا یوه کچه روانه ده، خو د دا ډول فعالیتونه استمرار د چارواکو لخوا د درولو او چکونو له امله اغیزمن شوي دي او د خوندیتوب د نشتوالي احساس ورکوي. د حفظ الصحې د ترویج او د انتقالي ناروغیو ګواښ او د ټولنې د ښکیلتیا متمرکز فعالیتونو مهمې برخې اغیزمن شوي دي، په ځانګړې توګه چې هیواد د دوبي موسم را روان دی او په هغه کې د ساري ناروغیو خپریدل لکه د اوبو له امله حاد اسهال او کولرا پراخ دي. د دې ننګونو برسېره بشري ټولنه خبرو اترو ته دوام ورکوي چې واک او صلاحیتونه پراخ کړي. د 2023 کال لپاره د بشرپالنې د غبرګون د عمومي غوښتنې په ځواب کې چې ۴،۶۳ میلیارد امریکایي ډالر و، د جون د میاشتې تر دوهمې نېټې پورې یوازې 9 په سلو کې ترلاسه شوی دی.

۵۸. د 2023 کال د جنوري د لومړي نېټې څخه د مارچ د میاشتې ترمنځ موده کې، ۱۵،۸ ملیون وګړو ته بشري مرستې رسیدلې، د 13.5 ملیون وګړو ته خواړه او د معیشت بدیل ملاتړ، 4 ملیون وګړو ته د روغتیايي پاملرنې، 2.1 ملیون ماشومان او شیدې ورکونکو میندو د حاد خوارځواکۍ د مخنیوي او حل لپاره مرستې، 4 ملیون وګړو ته د څښاک اوبه او د حفظ الصحې مرستې، 611,000 ماشومانو ته د زده کړې لاسرسی او ښوونیز مواد، ۲۹۲۰۰۰ کسانو ته بیړنی سرپناه او د کور وسایل او ۷۰۰۰۰۰ وګړو ته لرترلره د خوندیتوب یو ډول مرسته په ګډون، ملاتړ تر لاسه کړي دي.

۵۹. د فبروري د میاشتې د 6 نېټې څخه بیا د می میاشتې تر ۲۰ نېټه پورې، د بشرپالنې ټولنې د 1.35 ملیون وګړو ته مرسته رسولې دی ترڅو د کورنیو خوراکي خوندیتوب پیاوړي او د هغوي انعطاف پذیرۍ ځواکمن کړي، چې پدې کې 147,000 تنو ته په محل کې جوړ شوي لوړ کیفیت تصدیق شوي د غنمو تخمونه او کیمیاوي سرې، 717,000 د څارویو د ساتنې ملاتړ، 33,600 تنو سره په کور کې د چرګانو د تولید فارم، 252,000 په کور کې باغدارۍ او د سبزیجاتو تولید کڅوړو سره، ۴۵۰۰۰ د کوچني فارم تجهیزاتو سره، 14,000 د کار په مقابل کې نغدي پیسې په ټولنه کې د اوبولګولو مهم زیربنا بیارغونې او 138,000 زاړه افراد، معلولین وګړي او میرمنې او یا ماشومان چې د خپل کورنې مشران دي د غیر مشروط یا څو مخیزه نغدو پیسو مرسته ترسره کړیده. له 150,000 څخه ډیر څاروي د پوستکي د لمپي د ناروغۍ په وړاندې واکسین شوي چه 97 ولسوالیو کې، د 72,000 کورنیو ته ملاتړ چمتو کړي دي.

۶۰. په 2023 کال کې تر دې دمه د شري د ناروغۍ 13,349 شکمنې پیښې ثبت شوي دي (77 سلنه د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومان وو). د جنوري د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر 20 نېټې پورې ملګري ملتونه په ټولو ولسوالیو کې له یو ملیون څخه ډیر ماشومان د شري د ناروغۍ په وړاندې واکسین کړي دي. په همدې موده کې د ډیهایډریشن (په بدن کې د اوبو کموالي) د اوبو له امله د حاد نس ناستې 54,174 قضیې (۵۵ سلنه د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومان مصاب کړي دي) راپور ورکړ شوي دي. په 2023 کال کې، د وحشي پولیو لومړي ډول دوه قضیې په افغانستان کې ثبت شوي دي.

۶۱. د جنوري د میاشتې د ۱۶ نېټې څخه بیا د می د میاشتې تر ۲۰ نېټې پورې موده کې، په شخړو پورې اړوند د صدماتو/تراما د قضیو شمیر، د 2022 کال د ورته مودې په پرتله، 52 سلنه کم شوی چې په دغه موده کې 2692 تنه وګړي چې د جګړې اړوند د صدماتو پاملرنې ترلاسه کړې دي، چې په تېرې موده کې دغه شمېره 5613 تنه وو. د ۲۰۲۳ کال له پیل څخه ۲۱۴۰۰

تنه ماشومان چې په حاد خوارځواکۍ اخته وو په 3,179 بستریز او غیر بستریز صحي مرکزنو کې داخل شوي او درملنه یې تر لاسه کړې دي. د 700 څخه ډېر ګرځنده طبی آسانتیاوی او د تغذیې ټیمونو لیرې پرتو سیمو کې وګړو ته د رسیدلو کار ته دوام ورکړی او په هره میاشت له 540000 څخه زیات وګړو ته سلا مشورې ورکړې دي.

۶۲. د ۲۰۲۳ کال د جنوري او اپریل میاشتو ترمنځ موده کې، ټولټال 430993 وګړي ثبت شوي چې افغانستان ته داخل شوي دي. له دې جملې ۶۱۶۴۰ یې ایستل شوي او ۳۶۹۳۵۳ تنه په خپل خوښه راستنیدلي دي. کابو ۱۰۶۳۳۲ تنه د ایران اسلامي جمهوریت هېواد څخه او 324661 تنه د پاکستان څخه راستانه شوي دي. د ۲۰۲۳ کال د جنوري د میاشتې د 16 نېټې څخه بیا د مې د میاشتې تر 15 نېټې پوري موده کې تر ۲۶۵۴۰۰ تنه څخه زیات بې اسناده افغان مهاجرین د مهاجرت نړیوال سازمان د څلورو استقبالیه مرکزونو له لارې په هرات، نیمروز، ننګرهار او کندهار ولایتونو څخه تېر شوي دي. په هرات او نیمروز ولایتونو کې مرکزونه په ترتیب سره د مارچ د 30 او ۵ اپریل څخه نه دي فعال شوي، پداسې حال کې چې په ننګرهار او کندهار ولایتونو کې د ملګرو ملتونو لپاره د داخلي ښځینه کارکوونکو پر کار باندی د شدیددبندیز له امله په عملیاتو کې لنډ مهاله وقفې تجربه کړې. د جنوري د میاشتې څخه بیا د مې د میاشتې تر ۱۰ نېټې په منځ موده کې 2440 افغان کډوال چې په عمده توګه د پاکستان څخه (2235) تنه او د ایران اسلامي جمهوریت څخه (۱۷۲) تنه د ملګرو ملتونو د په خپله خوښی بېرته راستنیدو د پروګرام تر چتر لاندې افغانستان ته راستانه شول. په 2023 کال کې د کډوالو د بېرته راستنیدلو جریان د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ کلونو د ورته مودې په پرتله لوړ دی په همدې موده کې د 2021 په اوږدو کې د کډوالو د راستنېدو شمېر ۱۳۶۳ ته رسېدلی دی. د جنوري او اپریل د میاشتو ترمنځ، ملګري ملتونه د 259000 تنه داخلي بې ځایه شوي کسانو، راستنیدونکو، کډوال او د کوربه ټولنې غړي په ټول افغانستان کې د راستنیدو او بیا یوځای کیدو په 80 لومړیتوب لرونکي ساحو کې ملاتړ چمتو کړی دی.

۶۳. د بشرپالني فعالیتونو په پلي کولو کې د لاسوهنو د پیښو شمیر خورا لوړ پاتې دي، د لاسوهني 299 ثبت شوي پیښې چې د ۲۰۲۳ کال د فبروري د میاشتې د ۶ نېټې څخه بیا د می د میاشتې تر ۲۰نېټې پوري ترسره شوي دي، د تېر کال په ورته موده کې ۱۵۸ پېښې وې. د راپور ورکولو په موده کې، د بشرپالنې پر پرسونل، شتمنیو او تاسیساتو په وړاندې 78 ثبت شوي بریدونه، د ۲۰۲۲ کال د ورته مودې ثبت شوي ۹۱ پېښو په پرتله کمښت ښيي. سربیره پردې، د جنسیت په اړوند د 118 ثبت شوي پیښې له جملې څخه ۹۷ سلنه د اوسنې چارواکو ته نسبت ورکړ شوي دي چې په هغه کې، د نورو تر څنګ، په پروګرام کولو کې مداخله، د تلاشي په پوستو کې پیښې، د بشرپالني کارکوونکو، ملکیتونه او تاسیساتو په وړاندې ګواښونه او د محرم (نارینه بدرګه کوونکې) مسله چې د ښځینه کارمندانو د سفر په دوران اړین دي.

۶۴. د ماین پاکۍ د خدمتونو دفتر د ۹،۲ کیلومتر مربع زیاته په ماینونو ککړه ځمکه سروې او د ماینونو څخه پاکه کړې ده چې په خوندي توګه د 8000 چاودیدونکې توکې، د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو په ګډون، لرې کړي دي. ټولټال ۳۹۰۰۰ کسان چې ۱۴۰۰۰ یې ښځې او نجونې دي، ټولنو او د راستنیدو په سیمو کې د چاودیدونکو توکو د خطر زده کړې ترلاسه کړې دي.

**شېږم: د مخدره توکو په وړاندې مبارزه**

۶۵. د 2023 کال د مارچ د میاشتې په 8 نېټه، طالبانو یو فرمان صادر کړ چې په افغانستان کې د چرسو کښت منع کوي، د نشه یي توکو د منع کولو په اړه د ۲۰۲۲ کال د اپریل د میاشتې په ۳ نېټه مخکینی صادر شوي فرمان بشپړونکي چې د کوکنارو په ګډون د مخدره توکو کښت منع کوي. د راپوروبو پر بنسټ، د لوړ کیفیت بنګ بیه د وروستي فرمان د صادریدو وروسته 10 سلنه زیاته شوی ده. ځینې ساحوي راپورونه ښکاره کوي چې په ټول هیواد کې د کوکنارو کښت ډېر کم شوي دی او همدارنګه د کوکنارو د کروندو تخریبول په لویه کچه صورت نیولی دی. د مخدره توکو او جرم په اړه د ملګرو ملتونو دفتر په افغانستان کې د تریاکو د کښت د څارنې کار ته دوام ورکوي.

۶۶. د نشه يي توکو پر قاچاق باندې بنديز په بشپړه توګه نه دی پلی شوی او د ترياکو سوداګري لا هم په ټول هيواد کې جريان لري. د ناتاييد شويو راپورونو له مخې، د ترياکو يو شمېر مارکيټونه د لويو لارو په اوږدو کې د مهمو ځايونو څخه ډېر په احتياط سره نورو سېمو ته ليږدول شوي تر څو د ليد څخه چپ وي.

۶۷. د نشه يي توکو د پرله پسې بنديز په ترڅ کې، د وچو او تازه ترياکو د منځني ملي بيه په کروندو کې لا هم ګران دی او په ترتيب سره د 335 ډالرو او 202 ډالرو د هر کيلو ګرام بيه، د ۲۰۲۱ کال د جولای د مياشتې په پرتله، د وچو ترياکو بيه څلور چنده زياته ده. د ترياکو بيه په امريکايي ډالر په تيرو پنځو مياشتو کې ثابت پاتې شوي دی؛ په داسې حال کې چې د اسعارو په بدلون کې بې ثباتي او په نورو ملي اسعارو سره تبادله، د مخدره توکو پر مارکيټونو باندی اغيزه کړی ده. اوسنې چارواکې د ميتامفيتامين توليد او تجارت منع کړی او ويلي يې دي چې، د ضبط شويو موادو د ويجاړولو په ګډون، دوی د ټولو اړوندو فعاليتونو مخه به ونيسي. په عين حال کې د سېمې څخه راپورونه داسې وايي چې د دې کنټرول شوي موادو پورې اړوند فعاليتونه لکه توليد او سوداګری دوام لري. په نږدې هيوادونو کې ضبطول دا ښيي چې ځينې دا ډول فعاليتونه د پولو په اوږدو کې دوام لري. د مارچ د مياشتې په ۸ نېټه د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د مرستيال وزير د سيمې هېوادونه دې ته هڅولي دي چې د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه کې د اړين کيمياوي توکو قاچاق، د پيسو مينځلو، او قاچاقچيانو ته غير قانوني مالي جريان، او د کوکنارو د کښت مخنيوی په موخه کروندګرو ته د بديل معيشت په چمتو کولو سره همکاري وکړي.

۶۸. د فبروري د مياشتې راهيسې، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر د بديل پرمختيا پروګرام د 2375 څخه زياتې کورنيو ته رسيدلي دی، چې په هغه کورنيو کې 47 سلنه يې د ښځو له خوا سرپرستي کيږي (ټولټال په هلمند، کندهار، ننګرهار او لغمان ولايتونو کې ۱۶۶۲۵ تنه ګټه اخيستونکي دي) چې په دې ولايتونو کې پر کوکنارو متکي نيازمندو بزګرانو لړه برخه تشکليوي. دغه پروګرام د بزګرانو سره، د هغو کسانو په ګډون چې سرچينې او مهارتونه نلري، د سبزيجاتو توليد لپاره اصلاح شوي تخمونه، د چرګانو فارمونه، د حبوباتو حاصلاتو توليد، څاروی او مالداری او د لبنياتو پروسس او د ځايي بازارونو سره د ګټه اخيستونکو د نښلولو، د ښه لاسرسي او قانوني بديل معيشت ته د انتقال په ګډون، ملاتړ او مرسته کړي دي.

۶۹. د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر اړين درمل، طبي تجهيزات، د اضافي خواړه بستې، او د حفظ الصحې لومړني کټونه مخدره توکو د درملنې 24 مرکزونو او ۷ د ساتلو مرکزونه سره مرسته کړي دی. دا مرستې د شواهدو پر بنسټ د بشري حقونو د لاسرسي زياتوالي کې، د نارينه او ښځينه مخدره توکو استعمالونکو ته د کيفيت لرونکي درملو درملنې خدمتونه او اړين خواړه، طبي تجهيزات د کابل، کندهار، هلمند او نيمروز ولايتونو په بنديخانو کې، په دغه بنديخانو کې د ماشومانو په ګډون، اړين خوراکې توکې او لومړني ټولينز ملاتړ، مرسته به وکړي.

**اووم: د ماموريت ملاتړ**

۷۰. د اپريل د مياشتې تر 30 نېټې پورې، په يوناما کې د خالي بستونو کچه د نړيوالو کارکوونکو لپاره 10 سلنه وه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره 9 سلنه، د داخلي مسلکي کارکوونکو افسرانو لپاره 17 سلنه او د داخلی کارکوونکو لپاره 12 سلنه وو، چې د تصويب شوی بستونو په انډول په ترتيب سره 9 سلنې، ۱۰ سلنه، 4 سلنه او 4 سلنه وه. د نړيوال ښځينه کارکوونکو تناسب ۳۲ سلنه، د ملګرو ملتونو رضاکارانو لپاره، 8 سلنه د ملګرو ملتونو د داخلي مسلکي افسران ۸ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره 8 سلنه وه. د ملګرو ملتونو د داخلي رضاکارانو پروګرام د ځوان افغان ميرمنو لپاره يو مهم ذخيروی سرچېنه ده چې د ملګرو ملتونو په کاري ځواک کې د شامليدو هېله لري. ماموريت په دې اړه تدابير نيولي دي چې د داخلي ښځېنه کارکوونکو اضافي ستونزې کم کړي کوم چې د لېږې واټن څخه په کار بوخت دي. په الماتي کې د يوناما دفتر د کارونې لپاره چمتو دی.

**اتم: ملاحظات**

71. په افغانستان کې د طالبانو رژیم د 22 میاشتو راهیسې په داخل کې ثبات ساتلی دی، که څه هم د جبري اقداماتو په کارولو سره، خو تر اوسه اقتصاد یې هم اداره کړي دی، که څه هم توازن په ټیټه انډول کې دی، واک یې تر خپل کنټرول لاندې ساتلی دی. په داسې حال کې چې د حقیقي چارواکي کابینې په کابل کې پاتې ده، خو ستراتیژیکو پریکړي په کندهار کې د طالبانو د مشر له خوا نیول کیږي. پلي کول په مرکزی او ولایتي کچو کې نظارت کیږی او ولایتي چارواکي دغه کار د تعین شوی شوراګانو په واسطه ترسره کوي. د اوسنۍ چارواکو کابینه د عوایدو په راټولولو کې په دوامداره توګه د بریالیتوب راپورونه ورکوي.

72. طالبانو د ځان بسیاینې پر بنسټ اقتصادي پالیسۍ وړاندې کړې دی. په داسې حال کې چې د ډیری بشري اړتیاوو د حل کولو وړتیا لاهم خورا لوړه ده او پر نړیوالو ډونرانو پورې متکي دی. د نغدو پیسو روان جریان د ډیر سخت اقتصادي او بشري وضعیت په مخنیوي کې او همدارنګه د اقتصاد بشپړ سقوط په مخنیوی کې مهمه ونډه لوبولې ده. په داسې حال کې چې اوسنۍ چارواکي د ناقانونه فصلونو په ویجاړولو کې د پرمختګ خبر ورکوي، خو دوی د بزګرانو د بدیل معیشت لپاره کوم بله لاره تشخیص او یا خوندی کړی ندی. او نه هم د مخ په زیاتیدونکي مصنوعی غیر قانونی مخدره توکي په سوداګری کې کوم پرمختګ تر لاسه کړي ندی. د چاپیریال شاکونه او د اقلیم زیانمنتیا د بشرپالني د اړتیاوې د لاپسې زیاتولو کې دوام لري او کیدای شي په زیاتیدونکي توګه د کرنې پر بنسټ اقتصادي وده د ننګونو سره مخ کړي چې امکان لري داخلي او سیمه ییز امنیت ته ننګونې معرفي کړي.

73. لکه څنګه چې ما مخکې وویل، اوسنی وضعیت پایښت نلري. د طالبانو مشرتابه د خپلو زیاتو محدودیتونو، د بشري حقونو څخه د سرغړونې له لارې، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو حقونه، وضعیت نور هم خراب کړی. ډونران د رقابتي غوښتنو په لېرلید کې د اخلاقي او احساسی خنډونو سره مخ دي ځکه چې په نورو سیمو کې د ورته مرستو لپاره ډیره اړتیا شته. ملګري ملتونه په کلکه ننګول شوي دي چې د دغه سازمان د بنسټیزو اصولو او د ملګرو ملتونو د منشور پرخلاف طالبان په لویه کچه ښځې له عامه ژوند او خدمدمتونو څخه بې برخه کوي. یوازی له دې امله افغاني ټولنه بې وزله پاته کیدای شي، او د طالبانو دا کړنو له امله افغان ملت به وروسته پاتې شی او ونه کولای شی چې خپل بشپړ بالقوه ترلاسه کړي.

74. د امنیت شورا د 2023 کال د اپریل د میاشتې په 27 نېټه په خپل 2681 (2023) ګڼه پریکړه لیک کې د طالبانو دا پریکړه وغندله چې افغاني ښځې ې منعه کړي چې د ملګرو ملتونو سره کار وکړي. یوه ګډه اندیښنه چې ما په دوحه کې د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړې استازې د غونډې په جریان کې دا خبره واوریدله چې طالبانو د ملګرو ملتونو پر کار او اصولو باندې د نه منلو وړ محدودیتونه وضع کړي دي. ما په دې اړوند خپل غبرګ پورته کړی او بیا به هم پورته کړم چې د نه منلو وړ دا دول پالیسیګانې بیرته وګرځوئ. د افغان ولس سره زموږ د مرستې ژمنه لا هم پیاوړې ده. زموږ پر عملیاتو د شدیدو محدودیتونو اغیزه په دوامداره توګه زموږ تر بیاکتنې لاندې دي، ځکه چې موږ به هره هڅه کوو چې له چارواکو څخه وغواړو چې دا تبعیضي اقدامات لغوه کړي. یوه خبره روښانه ده، په هرصورت کې د ملګرو ملتونو د هیڅ یوه ښځینه کارکوونکې ځای به د نارینه و سره بدل نشي.

75. د نسبي امنیت برسېره، په افغانستان کې د بهرنیو ترهګرو ډلو د شتون په اړه لا هم جدي اندیښنې پاتې دي. د اسلامی حکومت د خراسان ولایت څانګه - داعش د ټولې نړۍ لپاره ګواښ، تحریک طالبان پاکستان او د نورو بهرنۍ ترهګرو ډلو شتون د افغانستان په خاوره کې دوام لري. د معنی لرونکی او ټول شموله او پایښت لرونکی پراختیا د نه موجودیت په صورت کې، دا ګواښ شتون لري چې د دې افراطي ډلې ځینې جذب شي او وده وکولی شي.

76. د طالبانو هیله چې د نړیوالې ټولنې د یوې برخې په توګه وي، د طالبانو څخه دا غواړي چې دوي د بشري حقونو د هغو د ساتنې او ودې لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي. دا، د نورو شیانو علاوه، د ټول شموله حکومتولۍ او په مسلو کې پریکړه کول چې په ورځنی ژوند چاري اغیزمن کوي، د ډاډمن کولو په معنا ده. د بیان ازادۍ ته اجازه ورکول، د سیاسی ناراضو کسانو په ګډون، پرته له ویرې او په خپل سر نیول، په ځانګړې توګه د هغو کسانو، چې د ښځو او انجونو د ځورونې چلند او د تبعیض په وړاندې خبرې کوي، خورا مهم دی. زه د دې حقیقت له امله هم په ژوره توګه اندیښمن یم چې اوسنې چارواکې قضایي او فزیکي مجازات ترسره کوي.

77. د بشرپالني مرستو په اړه د ملګرو ملتونو کړنلاره د ترلاسه کونکو د حقونو څخه نه بېلېدونکې ده. د اړتیاو اندازه او تر ټولو لوی بشرپالني په پام کې نیولو سره په نړۍ کې بحران، مرستې به هغو کسانو ته ورکړل شي چې ډېر زیانمنیدونکي دي او د دې مرستې په چمتو کولو کې، موږ به د ځارنې کار ترسره کولو ته دوام ورکړو او ډاډ ترلاسه کړو چې برنامې په ټول شموله ډول وړاندې کیږي، د ښځو لپاره د ښځو له خوا د مرستو د رسولو د دوام په ګډون.

78. په سیاسي، بشري حقونو او امنیتي برخو کې زما ځانګړی استازی او د هغې همکاران په جدي ډول سره له طالبانو او د ټولنې د پراخه برخه استازو سره ښکیلتیا ته دوام ورکوي پدې موخه چې د افغان ټولنې د پراخه برخې وضعیت لا ښه کړي.

79. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو کارکوونکو څخه کوم چې زما د ځانګړې استازې روزا اوتونبایوا تر مشرۍ لاندې، او د غیر دولتي سازمان شریکان د دوی د دوامداره فداکارۍ او خدمت لپاره چې په خورا سختو او د ننګونو څخه ډک شرایطو کې کار کوي د زړه له کومې مننه کوم. زه د ځانګړې همغږي کوونکې د راپور ترلاسه کولو ته سترګې په لار یم چې د امنیت شورا د 2679 (2023) ګڼې پریکړه لیک سره سم ګمارل شوی دی.